اللہ اکبر
WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
د آزاد افغانستان لیکوالو ټولنه
WUFA
1985

رابندرناتھ ټاګور

ګیتانجلی

پښتو منظومه ژباړه

محمدصدیق پسرلی

www.sikaraam.com

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې
د جوړیدو د لسمې کالیزې په ویاړ
۱۳۶٤ - ۱۳۷٤ هـ ش



ګیتانجلي

د

رابندرناتھ ټاګور

پښتو منظومه ژباړه

د

محمد صدیق پسرلي

۱۳۷۳

www.sikaraam.com

د کتاپ پیژندنه

د کتاب نوم	:	گیتانجلی
ویونکی	:	رابندر ناتھ ټاګور
ژباړن	:	محمد صدیق پسرلی
خپرونکی	:	د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه د وفا جریده
د وفا جریدی د خپرونو پرله پسې نومره	:	۳
د چاپ کال	:	۱۳۷۳ حوت / ۱۹۹۵ مارچ
د چاپ ځای	:	تاپ پرنټرز - پیښور
کمپوزر		سید حسین پاچا

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

ډير کلونه پخوا هغه وخت چې نوی د لوستلو او ليکلو شوق راته پيدا شوی و او د زړهٔ په زور به مې په کابل مجله کې يو نيم شعر يا ادبي توته لوستلای شوای زهٔ د تاګور له نوم سره اشنا شوی وم او د دهٔ د ګيتآنجلي د ځينو شعرونو ترجمو به مې په ذهن او زړهٔ کې د دهٔ لپاره خاص ځای غوښت ، که څه هم تراوسه د تاګور د فلسفي شعر په کيفيت سبه نه پوهيږم هغه وخت مې ترنن هم سويه نيټه وه خو د تاګور شعر لکه پخه ميوه داسې ده چې ماشومان يې د خوند لپاره خوړي پرته له دې چې په طبي ګټو يې پوه شي خو پوهان يې هم په ګټه پوهيږي هم په خوند .

الف

د تاګور په شعر کې یو وړ خاص خوند پروت دی چې ښودل یې
خولۀ ، ژبه او علم غواړي . زما مینه د هند د دې لوی مفکر او ستر
شاعر له کلام سره صرف د هغه خوند له امله وه چې لږ ډیر زما ماشوم
طبیعت ورځخه اخیستلای شو خو په ګټه یې نه پوهیدم .

څو کاله وروسته یو وخت د محترم بینوا صاحب په قلم د ګیتاانجلی
د څو پارچو ترجمه لاس ته راغله (هغه وخت چې لا مکمله ترجمه نه
وه چاپ شوې) ما له هغو څخه یو دوه ټوټې نظم کړې چې په کال
۱۳۳۵ کې د پښتو زغ په مجله کې خپرې شوې .

بیا ډیرې وختې راغلې لاړې چې نه یې کومه مکمله نسخه په لاس
راغله نه یې له ما سره د نظمولو مفکوره وه . څو چې په کال ۱۳۵٤ د
کب د میاشتې په وروستۍ لسیزه کې د ښاغلی روان فرهادی له خوا په
دري نظم او نثر د ګیتاانجلی ترجمه چا راوړه د هغه اثر لیدو او لوستلو
بیا وپارولم له ښه مرغه د بینوا صاحب ترجمه هم په لاس راغلې وه ، د
دواړو په پرتله کولو بوخت شوم او د تاګور مطلب به مې په هر شعر
کې له دواړو څخه اخیست . د نظم لپاره مې د بینوا صاحب ترجمه چې
مکمله په نظر راغله غوره کړه ، البته په ځینو مطالبو د روان فرهادي
کتاب سم پوهولم هغه . و چې تر پنځه پنځوسمې ټوټې مې له یو دوو
ټوټو پرته له یوۀ سره نظم کړې پاته له څه لنډې وقفې وروسته چاپ شوې
او بیا نظم شوې دي ، په چاپ کولو کې صرف دا معیار و چې باید
هغه شعرونه نظم شي چې اقلاً یو څه خو زمونږ له ذهن او ادبیاتو سره
توافق ولري نورې منظومې رانه پاته شوې . نورې ټوټې یې چې ډیر
زیات د هندي فلسفو رنګ منلی و زمونږ لپاره یې شعري کیفیت نه
درلود ځکه چې هرقوم او هرملت بیل کلچر بیل معتقدات او بیل ادب
لري ، دغه څه چې ترجمه شوي دي هم البته زمونږ له ادبیاتو سره ډیر

مغايرت لري خو بيا هم مونږ ته يکې بوه اندازه ادبي کيف حاصليږي نه هغومره چې يوهٔ بنګالي هندو ته حاصليداى شي . خو د پاته ترانو نظمول راته بيخي اضافي کار ښکاره شو ، يا به يې زه په خوند نه پوهيدم يا به ممکن زمونږ لپاره نامفهوم غوندې اشعار وو .

www.sukraam.com

په هرحال په ډيرو ليوني خوشاليزې ، که دا ترجمې د خلکو خوښې شوې په ګوشته کې نور ځوانان هم شته ، نور ځوانان به يې تکميل کړي .

په درناوى

پسرلى

www.sikaraam.com

بیکران او لا محدود چې دې پیدا کړم
دغه شان به ای باداره ستا رضا وه !
په وارو ، وارو زمـا د بدن لوښی
ډکـوې او تشوې د ژوند لـه تاوه
*** *** ***

چې په غرونو ، په رغونو باندې ګرځې
دا وړه غـوندې شپیلی هـم درسره وي
هـره سا پکې یوه بله نغمه پوه کړې
شامدام دې نوی ساز - نوې نغمه وي
*** *** ***

جاویدان لاس چې راتیر زما پهٔ زړهٔ کړې
زمـا زړهٔ یې له منبوده ګلستان شي
د حدودو پنجرې ماتې کړې زغیزې
په ها ژبه چې عـاجز ورته بیان شي
*** *** ***

زمـانو ولیدل ستا ډیر نعمتونه
چـې زما وړو لاسونو کې رالویزې
آیا نور هم څه لا دم ګنې باداره ؟!
یا د نورې سمسورتیا ځای درښکاریزي ؟

www.sikaraam.com



اجـازه چې د سندرې ماته راکړې

زمـا زړۀ شي له ډير ويارې درې وړې
تاته وګورم ليمې مې شي رادکې
رونې اوښکې مې رپ رپ په بارخو رغړې
*** *** ***

هغه څه چې د ورټ وړ وو په ژوندون کې
د خوږې سندرې رنګ واخلي عيان شي
زما نمانځنه د يوۀ ښاد مـرغه په شان کړې
کـوم چـې پاس پر سمندر وزر افشان شي
*** *** ***

www.sikaraam.com

ته زمـا په دې سندرو خوشحالیږې
چې سندرې درته وایم بنه پوهیږم
زه یـوازې په عنوان د سندر غاړې
ستا حضور ته نژدې کیږم او قبلیږم

*** *** ***

د سندرو د اوږدو وزرونو خولهٔ ده
چې ستا سنګلې ، پستې پښې شي سنګلولای
هغه پښې چې تش دیدن یې ناممکن دی
تصور یې د لیدو نشم کولای

*** *** ***

د سندرې خوشحالي مې کړې سرشاره
ځـان مـې هیر شي درته ووایمه یاره !
کنه زه څوک یم او ته څوک ؟! زه دې مینځه ،
تهٔ مالك زما د هر څه یې باداره !

www.sikaraam.com

اې باداره ! اې باداره ! اې باداره !
چې ته څنګه بدل بولې نه پوهيزم ؟
زه يې تل تل په خاموش حيرت کې اورم
پرې خوښيزم ، پرې مستيزم ، پرې نازيزم
* * * * * * * * *
د سندرو ژوندی روح دې ده چې تل تل
پردې مځکو ، آسمانونو باندې ګرځي
چې د ساز دې مقدسې څپې راشي
دبرين حجاب د غرونو وړې اوغورځي
* * * * * * * * *
زړۀ مې ستا سره سندره بلل غواړي
خو له تت آوازه زړغ نه اوچتيزي
زه به څه.ووايم عجز کړوي ما
له ساده زړغه سندرې نه جوړيزي
* * * * * * * * *
آه ، زما زړۀ دې زما د زړۀ باداره !
په څه لومو ، په جالونو کې نيولی ؟
تا د خپلې موسيقۍ په بيشماره –
خوندورو طنابونو يم ټرلی !

www.sikaraam.com

اې زما د اروا ځانه ! ښه پوهيزم
دا چې ساتم خپل بدن پاك او سپيڅلی
چې ستا لاس زما پر جند باندې تيريزي
خوږ مبنود يې زما ترځان راګرزيدلی
*** *** ***

زه به زيار باسم چې تولې نارواوې
له خپل زړۀ او له خپل خيال څخه جلا کړم
ښه پوهيزم چې ته هغه حقيقت يې
چې د عقل په انوارو يې رڼا کړم
*** *** ***

زما زيار او زما هڅه به تل دا وي
چې بدي مې واړه وياسم له خپل زړۀ
د تازه او غوړيدلي ګل په څير مې -
مينه وساتم او پالم باندې تل زړۀ
*** *** ***

ته زما د زړۀ معبد کې يې پوهيزم
په هر کار کې ماته مرسته راکوې ته !
زما هڅه به باداره ! توله دا وي :-
چې په هر څه کې جلوه رابښکاروې ته

www.sikaraam.com



صرف زه دومره لوړينه درنه غواړم
چې يو ځل دې اجازت ومومم در ته
بس د ستړګې رپ قدر در سره کښينم
نور کارونه به مې بيا رسوم سر ته
* * * * * * * * *

ناکرار مې د زړګي ذره ذره شی
نه ليدل دې ګوره څه اور په ما بل کړي
زما کار د مشقت د بيکران سين
په بې پايه کړاوونو را بدل کړي
* * * * * * * * *

د ګرمې توده سا بيا احساسومه
د کړکۍ له شا نه مخ رابنيۍ ماته
او د شاتو مچۍ بيا په تاندو ګلو
سريندې د محبت زغوي چا ته
* * * * * * * * *

د دې وخت دی چې اوس زه هم ستا ومخ ته
مخامخ کښينم په پټه خوله دلبره !
په کاملې خاموشي درته شروع کړم
د ژوندون د نذرانې غوره سندره

www.sikaraam.com

٦

دا کوچنوتی ګل در پرې کړه
کوم چې تاته غوږیدلی
مه ځنډیزه چې زمول نه شي
بیا به خاورو وي لړلی
*** *** ***

دا کوچنوتی ګل درواخله
انتظار ولاړ دی تا ته !
په امیل کې به دې ګوندې
یو څه ځای وي ورته پاته
*** *** ***

www.sikaraam.com

کنه ته يې د پاسته لاس
د مښود په خوږو ښاد کړه
د حسرت له پنجرو يې
په خپل لاس باندې آزاد کړه

* * * * * * * * *

هسې نه چې ورځ بيګاه شي
دې نه وړاندې چې خبريزم
باندې تير د نذر وخت وي
زه بيريزم - زه بيريزم

* * * * * * * * *

زه منم ، په رنګ کچه دی
بوی يې هم دومره تيز نه دی
خو در پرې يې کړه له ځانګې
چې د کار وخت يې دغه دی

www.sikaraam.com

۷

زما ساز او زما نغمو يې — اوچت حُسن ساده کړی
د ښایست له آسمانو يې — دی په مځکه پیاده کړی

د ده حُسن بې جامو ، او –
پسول د وصل اخلال ګر وي — بې سینګاره ښایسته دی
له ګینو نه وارسته دی

دا پسولونه او ګینې دې — چې په مینځ کې مو دریزي
زما و ستا پټې خبرې — يې په شور کې محو کیزي

ستا په وړاندې مې له شرمه — غرور مات د شاعرۍ شي
ای باچا د شاعرانو ! — ژبه تا ته تړتړۍ شي

زه ستا پښو ته یمه ناسته — اجازه راکړه باداره !
چې له ژوند نه مې کړم جوړه — یوه شپیلۍ د تا د پاره

یوه ساده – سیده شپیلۍ چې — بس د تا په یاد ږغیزي
ستا د پاره د یوې ښکلې – — نغمې ساه پکې چلیزي

www.sikaraam.com

٨

شاهانه جامې چې واغوندي ماشوم ته
کړي امیل د جواهرو ور په غاړه
ښایسته ، ښکلې جامې کړي ورنه هیرې
طفلانه لوبې د دۀ له زړۀ نه واړه

* * * * * * * * *

چې هار خپل اخلي د ناز ښکلې جامې یې
په نازکو پښو کې اوړي لکه لومې
د امیل دانې یې واړه ځانته ځانته
د طفلی هوس ته وګرزي پیچومې

* * * * * * * * *

www.sikaraam.com

چې وريښمين لباس يې خاورې سپېره نه کړي

ګوښې ګرزي د طفلانو له ټولې نه

هوسونه يې ور وژني شاهانه پوښ

آرايش يې لرې ساتې له طفلې نه

* * * * * * * * *

نو ، اې موږې ، ای د ښکلي ماشوم موږې

خپل ماشوم په ښکلي پوښ کې ښکيلوه مه

بې ګناه بچي دې ای زړهٔ سواندې موږې

له طفلې او له طفلانو بيلوه مه

* * * * * * * * *

دغه خاوره چې جامې ورڅخه ساتې

دغه خاوره دې روغتيا بخښي ماشوم ته

پريږده ورغړې پر خاوره ، لوبې وکړي

دغه لوبې دې ښکلا بخښي ماشوم ته

www.sikaraam.com

ای ناپوهه ، ای ناپوهه !
ای په خپلو اوږو سپوره !
اوس له خپلې دروازې هم
پکر غواړې ټمه خوره

خپلې چارې او دندې دې
وسپاره و هغه چا ته
چې ستړیا او تأسف یې
لیمه نه اړوي شا ته

چې د مینې په ساه بله -
ډیوه وژني ټمنا ده
آرزوګانې دې کړه لرې
چې آرزو د عشق بلا ده

د هغو ناولو لاسو
له خیراته لاس په سر کړه
ها هدیه موږه په سترګو
چې سپیڅلې مینې درکړه

www.sikaraam.com



ستا د پښو لپاره فرش خو غوړيدلی دلته لند وو
مګر تا هلته پل کيښود چې بيوزلي سره پند وو

زړهٔ مې غواړي چې تندی مې ستا په پښو پورې موښلی
خو زما سر تيټيدنه په دې نه شي پوهيدلی

چې ستا ګام د اسکيرليو او بې وزلو خلکو مل دي
په رټلو ، په درويلو دې خاونده نظر تل دی

غرور نه شي هغه ځای ته لاره هيڅ وخت موندولای
نه مغرور د دې مطلب په - نازکي شي پوهيدلای

هغه ځای ته چې د خوارو په جامو او په کالو کې
له بيوزلو سره ګرځي په ميرو او په باندو کې

زما زړهٔ نه لري لاره هغه ځای ته چې ته تل يې
د خورا ډيرو بيوزلو بې پناهو سره مل يې

www.sikaraam.com



د معبد په تيارو کې
ته د چا پرستش غواړې ؟

چې ورهم کړې درپسې پورې ؟
پام دې وي د چا په لوري ؟!

دا تسپې او نغمې څه دي ؟
په دې توره تياره کې

دغه پريږده ، څه پرې وياړې ؟!
له تيارو څخه څه غواړې ؟

سترګې وغړوه ، ګوره
که دې خدای غواړې نو وايه

په تيارو کې خو څه نشته
په کوم ځای کې هغه نشته ؟

هلته هم دی ، هغه ځای کې
هم په غرو کې د شپنيانو

چې بزګر په يوې بوخت وي
له خواله سره جوخت وي

هلته هم د هغوی مل دی
د پاسته لاس په تناکو

چې لو لارې جوړوي څوک
پخې تيږې وړوي څوک

له هغو سره دايم وي
په سيلۍ - په ځول - په هروخت

په باران - په باد اوريه کې
آن په تېکنده غرمه کې

www.sikaraam.com

د هغه کالو ته ګوره
تل له خاورو نه سپيره وي
له زيارکښنو سره اوسي
له غريب سره ديره وي

له عبا او قبا تير شه
پريږده دا د ريا کته
د هغه غوندې په مځکه
شه دې خاورو ته راښکته

آزادي غواړې نو واوره
آزادي رستګاري ده
له دې تورې تيارې ووزه
د غمجنو غمخواري ده

زمونږ بادار په خپله خوښه
واخيستې په خپله غاړه
د مخلوق د قطرت ستونزې
د خلقت اړيکې واړه

تل له مونږ سره لګيا وي
تل يې پام وي زمونږ په لوري
له هر څه يې ښکاري مينه
تل په مينه راته ګوري

دې بزرګيو ته دې شا کړه
پل بهر له حجرې کيږده
دا نذري عود بتې مړې کړه
د خلوت ګټې دې پريږده

څه پروا که دې کالي وي
تاپې تاپې اوشليدلي ؟
اسکيرلي او بيوزلي
خو لا ډير دي پرې منلي

پاڅه پاڅه زحمت خوښ کړه
له زياره سره خپل شه
سر ، تندی دې کړه خولې او -
له باداره سره مل شه

www.sikaraam.com

د عمرونو مسافر یم
په اوږده سفر وتلی
د آسمان د لوړو وړانګو
په بګۍ کې یم راغلی

ډیرې نخښې مې پرې ایښې
د دې ستورو پر مخونو
آسمانونه مې کچ کړي
په دې ستړو سفرونو

هغه ډیره لیرې لار ده
چې نژدې تا ته راغلې
موندول یې آسان نه دي
هم سیده ده ، هم پیچلې

د خوږې نغمې په څیر ده
چې له دروې شي راپورته
په هنر کې رهنما شي
د ښکاره ساده ګي لور ته

نابلده تکوي هرځای
ډیر د خپلو ، پردو وروڼه
لالهاند وي څو چې مومي
د مطلب د حرم خونه

زما ليمې هم ښکته پورته
لالهاندې ګرځيدلې

په هرڅه او په هرځای کې
يې بس ته پسې غوښتلې

دې نه مخکې ، دې نه وړاندې
چې ليمې وترم دواړه

او ناړې کړم چې دا ته يې
ای زما په زړه ولاړه

دا پوښتنه : چې دی کوم دی ؟
زما په سترګو کې اوبه شي

هر يو څاڅکی د دې اوښکو
طوفاني غوندې څپه شي

يو مست سيل ورڅخه جوړ شي
شك شبهې واړه لاهو کړي

د يقين په ويړ جهان کې
د « دا زه يم » نفس پو کړی

www.sikaraam.com



ها سندره چې ويلو ته يې راغلم
ده تراوسه نابللې رانه پاته
ورځ مې تيره شوه او ساز مې سر ونه نيو
له بې سوره سازه څه واوروم چاته ؟
* * * * * * * * *

لا تراوسه مې سم وخت نه دی موندلی
ناموزونه دي پراته راته لفظونه
تش يو درد مې د آرزو په زړهٔ کې پروت دی
نور نه ساز شو ، نه سرود شو ، نه شعرونه
* * * * * * * * *

www.sikaraan.com

که څه هم غوتی لا نه ده غوړېدلې
د هوا له زړۀ سارۀ آهونه خیژي
نه رغیږي ، نه لید کیږي خو څرپی یې
ورو ورو اورم چې زمونږ خوا کې تیریږي

* * * * * * * * *

یوه اوږده ورځ مې بیګاه کړه هلو ځلو
چې مې دۀ ته خپله خونه فرشو له
چې مې دی نشو دننه رابللای
ما تراوسه دیوه نه ولګوله

* * * * * * * * *

د لیدو په تمه تمه به یې پایم
دا آرزو به مې ترمرګه راسره وي
که څه هم تراوسه نه دی ما لیدلی
د دۀ خیال به مې د زړۀ د کور دیوه وي

www.sikaraam.com

وړ د رحم او عطوفت دي
زما هيلې ، فريادونه
خو د لوی رحم خاونده
د تا بل شان دي دادونه

که زه ډير څه درنه غواړم
ته مې لږ منې غوښتنه
زما ژوند دې ښايسته کړ
په دې لويه لوريينه

هره ورځ په ما بې غوښتنو
کمې - لويې عطيې اورې
چې د غوښتو له هجومه
مې بې غوښتو ضمير ژغورې

دا عطيې دې څه دي ؟ ربه !
دا آسمان ، مځکه ، دنيا مې
دغه زه ، او زما جند ، او -
دغه ژوند ، او دغه سا مې

کله داسې شي چې سوځم
ستا له ډيره انتظاره
کله پاڅيزم له خوبه
ستا په لټه ناکراره

خو ته ، اې زما باداره !
کله هم نه ليدل کيږې
بيرحمي نه ده نو څه ده
چې هروخت رانه پټيږې

ما له ورانو هيلو ژغورې
ته په خپلو انکارونو
چې د تا د مينې وړ شم
په سپيڅلو ارمانونو

www.sikaraam.com

۱۵

د خپل لوی دربار په مینځ کې
دې زه هم یم کښینولې
چې د تا سندرې بولم
زه دې یمه رابللې

بل کوم کار پاته دی ماته
په دنیا کې چې یې وکړم ؟
بې له دې چې وځښم ژوند
او تړې جوړه یوه نغمه کړم

نیمه شپه چې مو دربولې
پرستش ته ګړیالونه
چې ادا کړو په معبد کې
د کامل سکوت لمونځونه

نو ای زما باداره ! ماته
حکم را ! چې ودې ستا یم
په حضور کې دې ولاړه
او سندرې درته وایم

هر سحر چې په فضا کې
ستا زرین ارغنون سر شي
ما هم بوله چې تا ستایم
چې د فخر جام مې پُر شي

www.sikaraam.com

١٦

د دنيا په دې لوی جشن -
په دې زيري يې خوشحاله

کې ، دا زه هم ميلمنه شوم
په دې لطف ښه درنه شوم

هم مې وليدل په سترګو
کافي برخه مې حاصل کړه

هم مې واوريدل غوږونو
د سيلونو ، د خوندونو

په دې جشن کې زما هم
درست مې وزغول داسې

د سازونو وظيفه وه
چې له وسه مې پوره وه

آيا اوس هم لا هغه وخت
چې دننه مې دربولې

درته نه ښکاري باداره ؟!
د وروستي سلام د پاره

www.sikaraam.com



زه د مینې لاس ته ګورم چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
خپل تقدیر او دا خپل هڅه خپل جهان ورته تسلیم کړم

دا سبب دی چې لا ګورم په ما دومره شو ناوخته
دا موجب دی چې کړیږم انتظار راولي سخته

غواړې ما هم کړي پابنده د دودونو ، رواجونو
خو زه تښتم له دې خلکو او د دوی له دې دامونو

زه د مینې لاس ته ګورم چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
دا خپل ژوند او د ځان هڅه خپل جهان ورته تسلیم کړم

www.sikaraam.com

دوی په ما لګوي دا تور چې زه ډیره بې پروا یم
دوی رښتیا وایې ، رښتیا ده بې پروا سندرې وایم

وړځ تیریزي او کمیزي ګنډه ګونډه له بازاره
یوهٔ مشغول غونډې بشر هم واخیست لاس له کارو باره

کوم وګړي چې وو هسې په چتې پلمه راغلي
بیا کوروڼو ته ستانه شول قهریدلي - ځوریدلي

زه د مینې لاس ته ګورم چې خپل ځان ورته تسلیم کړم
دا خپل ژوند او د ځان هڅه خپل جهان ورته تسلیم کړم

www.sikaraam.com

توري وريځې سره اوري غرونه غرونه
او تياري يې راخوري کړې رنا لاړه
خو يوازې بهر ستا له ورځ مينه !
دغه يوه زه منتظره يم ولاړه
*** *** ***
ورځ چې تول په کار لګيا وي زه هم ورشم
په غرمه کې هم يوازې نه يم پاته
خو د دې توري تياري په تنهايې کې
د اميد سترګې بې تا واړوم چا ته ؟!
*** *** ***
که ته ځان راښکاره نه کړې او ما پريږدې
په دا هسې تنهايې او توره شپه کې
خدايزده څنګه به شي تيرې نه پوهيږم
دا اوږدې ګړۍ په ما په باد اوريه کې ؟
*** *** ***
زه آسمان او شاوخوا ته ځير ځير ګورم
چې تياري يې دم په دم اضافه کيږي
زړهٔ مې باد په مخه کړی دی روان دی
له سيلير سره ژاړي او چغيږي

www.sikaraam.com

که ته ما سره خبرو ته جوړ نه شوې
زه به ستا له خاموشیو زړهٔ ودان کړم
لکه توره شپه د ستورو له لیمو نه
انتظار به دې په صبر چراغان کړم
* * * * * * * * *

زه به ستا چوپوالی وزغمم په صبر
پټه خوله به دې په یاد یمه ولاړه
ستا سکوت به مې د خپل سکوت امسا کړم
انتظار به دې لرم په کږه غاړه
* * * * * * * * *

ورځ هرومرو راتلونکې ده راځې به
د تیارې لمن به خامخا تولیږي
ستا آواز به آسمانو نه یوه ورځ چوي
تري د سرو زرو چینې به را خوتیږي
* * * * * * * * *

هغه وخت به ستا خبرې زما له ځالې
د نغمو په توګه والوزې مرغۍ شي
او د تا نغمې به زما د بیدیا خوا ته
شوندې پرانیزي ، د ګل غوندې مسکۍ شي

www.sikaraam.com

۲۰

هغه ورځ چې نیلوفر په غوږیدو ،و
دریغه زړهٔ مې رانه ورك او آواره و
توکری تشه وه زما ، ګل غوږیدلي
خو د هیچا ورته پام او فکر نه و
*** *** ***

بس یو غم و چې یې لاس رانه چاپیر کړ
چې ناڅاپه یې له خوبه پاڅولم
د سهیل له خوا عجیبه وزمه راغله
چې خوازه پیام یې ډیره ښادولم
*** *** ***

د هغې د آواره پیام خوږوالي
د آرزو څریکې راویښلې ماته
رابنکاره شوه ، په تکمیل پسې وتلې -
د پسرلي د هیلو ډکه سا صحرا ته
*** *** ***

ها له نه پوهیدم زه چې دی به ماته
دومره ډیر وي رانژدې لکه زه ګمانته
دغه بشپړه خوږلت مې د زړهٔ تل کې
اوس غوږیزي چې مې وکتل جانان ته

www.sikaraam.com

۲۱

اوس يې وخت دی چې بيړۍ مې کړم روانه
خوشی وخت را باندې تير شو په ولاړه
چې بې کاره وخت مې تير کړ ډير افسوس دی
ا بته مې فرصت لاړ د سين په غاړه
* * * * * * * * *

پسرلي گل وغوړاوه ، تير شو او زهٔ لا
منتظرْ يم د مراوو گلو څانگه
مست بادونه چې چليزی نښندي هر لور
زيړې پانې ، د ساحل د ونو پانگه
* * * * * * * * *

www.sikaraan.com

ولې هسې په حيرت کې يې ولاړه ؟!
آيا نه اورې هغه خوږې سندرې ؟!
ها نغمې چې د امواجو غوندې يوه يوه
سا وهلې شان راځي له لرې لرې ؟

* * * * * * * * *

د هغو نغمو له ريږد سره مله نه شوې
چې د سين له هغې غاړې اوچتيږي
ايا نه محسوسوې هغه ورځمه ته -
چې له دې ښکلو سندرو را لتيږی ؟!

* * * * * * * * *

هغه ستا د دلدار زړغ دی چې تا بولي
ناامیده نشې ځان ورته چمتو کړه
تا وربولي ، ها خوا تاته انتظار دی
دا وړه بيړۍ موجونو کې لاهو کړه

www.sikaraam.com

جولایی ده باران اوري
خو کیدارو ته نه سنکاري

خو د ګڼ ځنګله په سیوري
له نګاه یې پانی ژغوري

پسته اور دی ، پسته اور دی
د تورات غوندې په پته -

زغ یې نه اوریدل کیږي
خولهٔ ، ورو ، ورو رانازلیږي

ننني ګیځ لا نه دي
ناخبر دی چې سیلی نن

پتې سترګې غورولې
څه تودې ناري وهلې

دې تل ویښ شینکي آسمان ته
ځنګلهٔ خپلې نغمې بس کړې

تورو وریځو څادر ورکړ
هر کالهٔ پوري خپل ورکړ

خو یوازې یو تنها تهٔ
په دې چوپه چوپیایي کې

یې په دې کوڅه کې پاته
یې روان په کومه خوا ته

اې زما یوازې یاره !
ما لا ور نه دی ترلی

اې زما خوږه دلداره !
ستا په هیله ، ستا د پاره !

د ویدهٔ په شاني یاره
کور مې غیږ درته پرانیستې

زما له کوره مه تیریږه
د زړهٔ زوره مه تیریږه !

www.sikaraam.com

۲۳

ای دلداره ! په دې شپه چې
هم د مینې په سفر یې

لیمه لار نه شي لیدلای
ته له کوره راوتلای ؟!

برآسمان په غرغرو دی
بادې هم د نامرادیو

کوره تالندې غرمبیزي
په عالم کې دی کړېزي

هردم ور پرانیزم یاره !
خو په دې توره تیاره کې

نن می خوب دی تنبتیدلی
هیڅ شی هم نشم لیدلای

زه حیرانه ناسته گورم
د راتلو لار دې ده کومه ؟

ما به څنگه وغانځې ته ؟
په څه لاره به راځې ته ؟!

د تیاره ساحل له غاړې ؟
که د گڼ ځنگله له څنډو

که په خپله په اوبو کې ؟
یا په تورو دریلو کې ؟

راته وایه ، راته وایه
کومه لاره دې تاکلې

زما یاره ، زما یاره !
چې راځې زما د پاره ؟!

www.sikaraam.com

که اوس ورځ وي ختمه شوې ، که تياره شوه
که وړې چنچنې نه شي چونيدلی
که وزمې له پسنو وليدلې زغ يې تت شو
که پستې وزمې اوس نشي چليدلی
* * * * * * * * *

په ما هم يو د تيارې نقاب راخپور کړه
لکه مځکه وي ه خوب په څادر نغښتې
يا مانبام چې د کمزورې نيلوفر گل
په ورد ، ورو راټولوي پاڼې او لښتې
* * * * * * * * *

د هغه پرديس اخلاص او شرم ورک کړه
د هغه چې څوريې خلاص او لار اوزده وي
چې قوت يې وي انجام ته رسيدلی
او زارۀ کالي يې خاورو کې سپيره وي
* * * * * * * * *

چې محتاج دې د کرم دي اې باداره !
هغه واړه له خپل لطفه بهره ورکړه
په پرده کې دې د خپلې لطف بخښونکې -
شپې - د گل غوندې يو نوی ژوندون ورکړه

www.sikaraam.com

د ستړيا په درنه شپه کې
ماته خپل توفيق عطا کړه
چې په تا زما تکيه وي
بې تشويشه لمحې راکړه

په هغه يوازې شپه کې
خپله مينه راسره کړه
چې د سعي حاجت نه وي
په خوازهٔ خوب مې ويده کړه

داسې مه کړه چې اروا مې
ستا نمانځنې ته کرم اړه
دا زهيره ستړې روح مې
کړه د خپلې مينې وړه

ځکه ، ته يې چې د ورځو
په ستومانو سترګو باندې
تور ځادر د شپې راخپور کړې
ورځ ويده کړې ورنه لاندې

دې د پاره - دې د پاره
چې سبا ته راوښيزې
د تازه ژوند د خوښيو -
منتظره نه پاتيزې

www.sikaraam.com

٢٦

دی راغی ، راته کیناست
مگر حیف چې زه ویده وم

څه بدمرغه غوندې خوب ږو ؟
څه بدمرغه شانته زه وم ؟

دی راغی هغه وخت چې -
شپه آرامه او چوپتیا وه

ژغ و ژوغ نه وو د هیچا
له پردو تشه دنیا وه

یو بربط یې و په لاس کې
په خوند خوند یې ژغولو

په خوږو خوږو نغمو یې
زما خوبونه نازولو

خو افسوس چې ویده بخت مې
کله هم نه راویښیزي

چې دی راشي زه ویده یم
واړه شپې مې ضایع کیزي

آه ، زه تل ولی ویدیزم
او دیدن یې هیرومه

د هغه چا چې په ساه یې
خوب و خیال ګل خورومه

www.sikaraam.com

۲۷

(۱) - رنا څه ده ، رنا څه ده ؟ د رنا خبره وکړه !

- دا آرزو له بلې شوې لمبې جوړه یوه دیوه کړه

- دا آرزو به مې دیوه کړم خو لمبه یې نه رپیږي
آه ، زما زړهٔ بدنصیبه چې ترمرګ دې ژوند جاریږي

- ذلت ستا ور تکوي بیا یو پیغام یې دی راوړی
چې تراوسه دې یار وښې دی د لیدو ځای یې تاکلی

- د آسمان مخ په ورو پټ شو باران اوري نه دریږي
نه پوهیږم په کوګل کې مې څه اور دی نه سړیږي

www.sikaraan.com

په مطلب يې نه پوهيزم چې يوه لمحه بريښنا شي
لا تياره کړی زما په سترګو بل حجاب مې مخته راشي

او زما زړهٔ لتوی لار هغه ځای او هغې خوا ته
کوم چې ستا د شپو سندرې ما دربولي هلته تا ته !

رنا څه ده ؟ رنا څه ده ؟ د رنا خبره وکړه !
- د آرزو له بلې شوې لمبې ، جوړه يوه ډيوه کړه

- وريځی بيا اوړې را اوړې په فضا کې شور ماشور دی
د دې توري تروزمئ مخ د رنجو تر تيرو تور دی

- خپل ژوند مه تيروه پام کړه د تيارې په حال کی ګله
محبت د لار مشال کړه دا د ژوند ډيوه کړه بله

---

(۱) شاعر دلته هم د نورو اشعارو غوندې د يوې مينې پېغلې له خوا زغيزې خو په دې ترانه کې له خپلې ندېې سره خواله کوي - دا کرښې د دوی د سوال او ځواب نخښې دي .

www.sikaraam.com

په څه لوبو کې يم نښتې
چې وتلې ورنه نه شم
د شلولو هڅه وکړم
خو د زړهٔ په خوږ اخته شم

آزادي ورڅخه غواړم
خو په زړهٔ مې ولولې دي
په آرزو يې هم شرميږم
خومره سنګلې سلسلې دي ؟

زه باور لرم چې ته خو
بې پايانه خزانه يې
او همدا چې زما يار يې
زما د هيلو پيمانه يې

خو په ما کې ها زړهٔ نشته
چې بس ستا په مينه ريږدي
د خپل کور او خپلې خونې
ننداره درپورې پريږدي

ها پرده چې يم پرې پټه
يو پوتی دی او ورکيږي
ورنه ورټ کوم خو بيا هم
پټ پټ زړهٔ ورته پسخيږي

زه يم ډيره پوروړې
ناکامي مې هم سوا دي
زما شرم دروند او پټ دی
آرزوګانی بې حيا دي

خو بيا هم چې زه غوښتنې
در ورم ، زدم يې ستا په وړاندې
زړهٔ مې ريږدي هادي نه وي
چې کړې ګاره کش ورباندې

www.sikaraam.com

چې د خپل نوم په حصار کې - مې ساتلې (۱) راته ژاړي
له دې تورو دیوالونو خلاصیدل او وتل غواړي

زه مدام پورې لګیا یم نوې ختې ورتپمه
دغه رنګ بنګ دیوالونه ترآسمانه لوړومه

خو چې هرڅومره د خاورو دیوالونه مې لوړیزي
په سایه کې یې له مانه حقیقي وجود ورکیزي

زه د دغو دیوالونو په هسکوالي باندې ویارم
چې کنډو پکې جوړ نشي په اخیر یې چاره غواړم

خو سره له دومره پوهې او سره له دومره زیاره
حقیقي وجود مې هیر کړ د واهي شهرت لپاره

---

(۱) مراد وړتخه روح دی .

www.sikaraam.com

۳۰

زه یوازې له کاله نه
وم وتلې ستا د پاره
ما یوازې تر تا پورې
ووهله لویه لاره

خو دا څوك دی ؟ د کوم ځای دی ؟
راپیدا شو دا له کومې ؟
چې په دې توره تیاره کې
پته خولۀ راسره درومې

که هرڅومره زیار باسم
چې جلایې کړم له ځانه
مګر دی نه جلا کیږي
په هیڅ توګه هم له ما نه

له ډیر خیاله ، له ډیر نازه
ځې د ګوتو په سرونو
په خپل لور آواز اثر وړې
زما له نرمو سرودونو

ای باداره ، ای باداره !
دا ملګری زما د ژوند دی
دا په خپله زما نفس او –
دا زما کوچنی جنډ دی

دی له سره نه شرمیږي
زهٔ په دهٔ پورې شرمیږم
چې له دهٔ سره درځمه
او په ورهٔ کې دې دریږم

www.sikaraam.com

۳۱

- راته وایه ، راته وایه
څه دي جُرم ، څه خطا وه

ای بندي ته چا بندي کړې ؟!
چې په جیل کې یې خوندي کړې ؟!

- دۀ ویل :- چې خپل بادار مې
زما د خپل عمل سزا ده

دلته یمه راوستلی
چې بندي یې یم ساتلی

دۀ ویل :- که څه هر څه مې
د لا ډیرو ډیرولو

له حاجته ډیریدلو
شوق مې زړۀ وتخنولو

زما خیال و چې هستي کړم
تر دنیا د تسلط غیږ

ترشمار او تر حد تیره
کړم بنامار غوندي چاپیره

د بادار حق مې ورنه کړ
چې کړم زياته خپله وندې

د دنيا له خزانو مې
وتړله لويه پندې

www.sikaraam.com

خو چې خوب را باندې راغی
په دې توره تياره کې

بې پروا لاړم ويده شوم
د بادار په بستره کې

چې له خوبه رابيدار شوم
هغه ګنج مې راته جيل شو

دا بندي د هوسونو
د خپل حرص په لومه ښکيل شو

- دۀ ويل :- دا ځنځيرونه
دا کړۍ چې درته ښکاري

دغه واړه مې په خپل لاس
ګړې په ډير احتياط تياري

زما خيال وو دا چه دا به
ترجهان راګرزومه

او په دې ځنځير به ځانته
جهاني قدرت ګټهمه

شپه او ورځ مې زيار وکينې
شپه او ورځ مې په ځان يوه کړه

په ظالمو ګذارونو
مې دا اوسپنه پسته کړه

څو چې کلکې کړۍ درستې
يوه له بل سره کوشير شوې

په زيارونو ، په ربړونو
سړې اوسپنې ځنځير شوې

ځنځير جوړ شو خو له شرمه
چاته نه شمه ژړلی

چې په لوی لاس مې دې خپل ځان
په دا خپل ځنځير ترلی

www.sikaraam.com

۳۲

د دنیا د دغو خلکو
چې په ښو یې راته پام دی
ما له هرې خوا تړې دوی
دا خو مینه نه شوه دام دی

خو ستا مینه داسې نه ده
که څه ده تر هرچا ډیره
تا آزاده یم پرې ایښې
نشته ستا په زړهٔ کې ویره

دوی ویریږي هسې نه چې
رانه هیر شی که تنها شم
دا جرئت ننشي کولای
چې آزاده لاړه راشم

شپې او ورځې راغلې لاړې
چې ځان نه راښکاروې ته
ستا د مینې بل انداز دی
آزادي نه سلبوې ته

که څه لږ دې یادوم زه
ځای دې نه نشته په زړهٔ پورې
خو بیا هم ستا پاکه مینه
زما د مینې لاره کوري

www.sikaraam.com

۳۳

سحه سپینه رونه ورځ وه
چې دوی راغلل زما کور ته

دوی وې :- ستا غوندی ده مونږ هم
مخه کړې د خدای لور ته

لیږ څه ځای راکړه چې مونږ هم
ګډ له تا سره خدای یاد کړو

او په فضل او مرحمت یې
دا بیوزلي زړونه شاد کړو

په یوه ګوټ کې مې ځای ورکړ
پټه خوله ول ، سنجیده ول

شپه او ورځ به لوی خاوند ته
په دعا او په سجده ول

خو یوه شپه مې په تیاره کې
ورته وکتل چې څه کا ؟

په لوټ مار باندې لګیا دي
څه ورانی دی چې یې نه کا ؟

زما پاك حرم یې لوټ کړ
شرم یې وغورزاوه شا ته

زما هر څه یې تالا کړه
هیڅ یې نه پریښودل ماته

www.sikaraam.com

۳٤

صرف د خولې او د خبرو
دومره برخه راکړه ما ته

چې په هغې مې ای هرڅه
بس درناري کړمه تا ته !

ما ته دومره آرزو راکړه
چې د هغې په رنا کې

تنها تا محسوسومه
په هر لور په هره خوا کې

بس یوه دومره وړه برخه
راته پریږده چې د تا یم

درته ګورم - راته ښکاري
راته وایې - درته وایم

ستا د عشق په زولنو کې
پابندي ستا د رضا را

هسې ژوند چې پرې پوره مې
شي مقصد د مینې ستا را

www.sikaraam.com

هلته ، هلته چې له زړونو
ډار او ویره وي لیښلې
آزادي او سرلوړي وي
علم و پوهه وي منلې

هلته ، هلته چې نه شر وي ،
نه فتنې وي ، نه جنګونه
نه ورانیزي ، نه نړیزي
د کورګیو دیوالونه

هلته ، هلته چې الفاظ وي
د رښتیا په چینو ولي
په کوم ځای کې چې خپلواك زیار
د تکمیل په طلب زغلي

چې رونې چینې د عقل
نه شي پټې په وهمو کې
د فضولو رواجونو
په شګلنو ځنګلو کې

هلته ، هلته چې فکرونه
ستا له لطفه بهره مومي
خیال او پام او عملونه
د پراخوالي په خوا درومي

دا زما سمسوره مینه
ای باداره ، ای باداره !
په هغه آزاد جنت کې
په خپل لطف کړه بیداره

www.sikaraam.com

٣٦

لويه خدايه ، لويه خدايه
که قبولي مې اسرې کړې

د افلاس بدي ريشې مې
له کمزوري زړهٔ نه پرې کړې

داسې توان راکړه چې پيښې
مې زړهٔ نشي خوځولای

او غمونه ، خوشحالي مې
په آسانه شم زغملای

چې غريب ته مې نظر وي
په خواري يې زهيريزم

د ګستاخ قوت په مخ کې
پر ګونډو نه شم دريزم

قوت راکړه چې خپل نفس مې
له ناوړو چارو لوړ کړم

ستا رضا ته وسپارم ځان
او زړهٔ ستا له مينې ورکړم

www.sikaraam.com

۳۷

زما خیال و چې په پښو کې - مې نور زور نه دی را پاته
د سفر قوت شو ختم لار ده بنده هرې خوا ته

څوری خلاص او لارې بندې اوس یې وخت دی چې تباه شم
یوهٔ خاموښ خلوت ته پټه پناه وروړم او پناه شم

خو چې ګورم ستا رضا لا زما د لوبې لارې مله ده
ستا قوه د ارادې لا زما د ژوند بار و بنه ده

چې زاړه ټکي په ژبه اړوم اړوم مړهٔ شي
بیا یو څو نوي نغمې مې راخورې د زړهٔ په زړهٔ شي

او چې چیرته زړې نخښې له نظره محوه کیږي
هلته نوی ملک د نویو عجایبو څرګندیږي

www.sikaraam.com

۳۸

زما په زړۀ کې تکاریزي
زما په روح کې مشغولیزې
دا چې زه درباندې ویارم
بس یو تا غواړم ، تا غواړم !

د دنیا چې څومره هیلې ،
آرزوګانې دي ، اسرې دي
دا چې شپه او ورځ په ذهن
او په زړۀ زما خورې دي
درستې پوچې دي او تشې
بس یو تا غواړم تا غواړم !

لکه شپه چې د نور هیله
پټه ساتي په تیارو کې
د غفلت د تل آواز مې
ازانګه کړي په نارو کې
په هرحال او په هروخت کې
بس یو تا غواړم ، تا غواړم !

لکه مست طوفان په ټول زور
امن مات کړي او رامیزي
له عصیانه مې ستا عشق ته
صدمه که در رسیزي
خو دی هم په ډاګه وایې :-
بس یو تا غواړم ، تا غواړم !

www.sikaraam.com

هغه وخت چې دغه زما زړهٔ وچ او سخت شي
ته په ما باندی د رحم باران وکړه !
هغه وخت چې مې ژوندون له مینې تش شي
د نغمو پردو کې راشه ، احسان وکړه
* * * * * * * * *

د جهان د فتنه زا چارو په شور کې
چې ما هم ورسره بیایې ، راشه راشه !
له سکون او له آرام سره خاونده !
په بې صبر او ناکراره زړهٔ کې تا شه
* * * * * * * * *

هغه دم چې دا بیوزل او بینوا زړهٔ
د زندان په یوهٔ ګوټ کې غلی ژاړي
په شاهي جاه وجلال یې ور ورمات کړه
ای زما باچا ! راتګ دې درنه غواړي
* * * * * * * * *

هغه وخت چې مې د زړهٔ په ارزوګانو
د باطلو وهمو ګرد پریوزي ته راشه
ته ای تل تل پاك او ویښه ، تنها خدایه
له رعدونو ، له بریښناوو سره راشه

www.sikaraam.com



زما خدایه ! له دیر وخته مې له تا نه
دغه تږی زړهٔ د رحم باران غواړي
یو نری څادر هم نشته د ورو ، مځکه -
له دې لوڅو افقونو امان غواړي

یوه تیته ، لالهانده نخښه نشته
د خورا لرې باران د لندبل هم
د آسمان لیمه له نمه خالي سنګاري
او وچ شوی دی د مځکې د زړهٔ تل هم

www.sikaraam.com

یو د مرګ غوندي خوفناکه طوفان تیت کړه
که د تا رضا هم دغه شاني وي بیا
د بریښنا اوزده غمچینه پسې واخله
چې آسمان له سر تر پښو وپرۍ بیا

ای باداره ! بیا در وبوله حضور ته
دا ظالمه د بدن سوهان تودوخه
دا ساکته ، ساه نیولې ، ساه نیونکې
دارونکې ، سوځونکې شان تودوخه

ستا د مینې له اوریځو څخه غواړم
چې یې داسې وي د مځکې په لور سترګې
لکه پلار چې وي په قهر او لندې شي
په هغه وخت کې له اوښکو د مور سترګې

www.sikaraam.com

٤١

تا په سيوري کې ځان نغښتی دی دلداره !
چيرته لرې يې ولاړ د تولو شا ته ؟
په کچه سړک يې دوړې درباديزي
تيل وهي دې ، پام وخيال يې نه وي تاته
* * * * * * * * *

څو ګړۍ وشوې چې دلته منتظره
نذرانه په لاس ولاړه يمه تاته
هر لاروی مې له تکري يو ګل وراخلي
اوس نژدې دی چې يو ګل نه شي را پاته
* * * * * * * * *

www.sitaraam.com

ګيځ تير شو ، غرمه لاړه ، اوس مانښام دی
زما ليمې له خوبه پتې پتې کيزي
هرڅوك ځي خپلو کورو ته چې ما وينې
راته خاندي ، ځوروي مې ، نه شرميزي

* * * * * * * * *

زه يوه خواره ، پلو غاړې جينکۍ يم
رهروان فکر کوي چې پکر غواړم
سترګې ښکته واچوم او په ځواب کې
چې ځواب نه لرم پتې سترګې ژاړم

* * * * * * * * *

آه ، ربښتيا هغوی ته کله شم ويلای
چې زه ستا په وعده ګورمه ستا لار ته
زه له شرمه خنګه ووايم چې زه خو
بې غربته جهيز نه لرمه يار ته

* * * * * * * * *

دا غرور مې د خپل زړهٔ په تل کې ونغښت
پر وښو ناسته او ګورمه آسمان ته
ستا ناڅاپه راتګ وينمه په خوب کې
چې راځې په ډير عالي شوکت او شان ته !

* * * * * * * * *

د بګۍ زرين بيرغ دې ورپيژي
يوه سپيڅلې رڼا تيت شي و هر لور ته
درست حيران شي ، چې راکوز شي او زما سر
کړې په مينه له سپيرو خاورو درپورته

او يوې داسي بې پناهي جينکې ته
www.sikaraam.com
ستا له څنګه ځای د ناستې موندل کيږي
کومه خواره چې له شرم او له نخو ته
لکه پانې په نرۍ وزمه رپيږي
*** *** ***
خو ، وخت تير شو لا دې زړغ د بګۍ نشته
داسي ښکاري چې دا واړه خوب وخيال وو
جلوسونه راغله ، تير شول د وګړو
د هغو چې کوم له درده فارغبال وو
*** *** ***
آيا ته هغه په پته خوله ولاړ يې
په يوه سوري کې د ټولو خلکو شا ته ؟!
او زه دغه منتظره يم چې ژاړم
د ستومانو آرزوګانو ستومانتيا ته

www.sikaraam.com

د سنحر په خړه وړه
چې د لمر وړانګې لا نه وې
دا آواز مې شو تر غوږه
چې په خوند یې راته ووې :-

چې یوازې زه او ته به
په بیړۍ کې روانیږو
ځو به ځو به هغې خوا ته
چې بس زه او ته پوهیږو

د بې پایه سفر حال به
پټ ساتو نه به یې ځایو
له مقام د ناتاکلي -
عبادت به هیڅ نه وایو

په بې څنډې سمندر کې
ستا د پټې موسکا وړاندې
کوم چې درسته توجه دې
زما سندرې نغمې کاندې

د څپو غوندې آزادې
د الفاظو له کړیو
د وزمو غوندې فارغې
له موجونو ، له بیړیو

دا ده شپه هم رارسیږي
د ساحل تر څنډو پورې
مرغۍ الوزي یوه یوه
ځې تر خپلو ځالو پورې

آیا وخت یې نه دی اوس هم
چې دا کلك ځنځیر پله شي
دا بیړۍ له سترګو پټه
د غروب وروستئ شغله شي

www.sikaraam.com

هغه ورځ ، هم هغه یوه ورځ
چې ما ځان د تا د پاره -
تیار نه کړای شو ، او راغلې -
ای زما د زړهٔ واکداره !

د عادي سړي په توګه
ناخبره ، نابیره
زما په زړهٔ ننوتلې
ای زما له زړهٔ خبره !

زما د ژوند فاني لمحې دي
کړې په مهر جاویدانې
او چې نن هغو لمحو ته
اړوم سترګې روښانې

راته ښکاري چې ها ټولې
زما په هیرو ورځو شپو کې
لکه زما یاد یې پرتې دي
په دې خاورو ، په خاشو کې

تا زما د کوچنیوالي
لوبې خاورې کې لیدلې
خو هیڅکله په نفرت او -
کرکه نه و ګرزیدلې

کوم قدم چې مې د لوبو
په کورګي کې اوریدهٔ زغ
اوس له ستورو څخه اورم
د هغه د ستنیده زغ

زما خوښي په دې کې نغښتې
چې یم ستا په انتظار کې
څو چې سیوری ځي رڼا پسې
او زه ناسته یم په لار کې

www.sikaraam.com

زما خوښي په دې کې نغښتې　　چې يم ستا په انتظار کې
څو چې سيوری ځي رنا پسې　　او زه ناسته يم په لار کې
څو باران د هسک له لوړي
د ګرمـي په سترګو اوري
څه تازه زيری راوړی　　روبيار بيا له آسمانونو
تيږک وايې او را درومي　　يأس دوړي له ارمانونو
زړهٔ مې سنباد او طبعه سپه ده
د وزمې ساه هم خوږه ده
له سهاره تر مابنامه　　يمه ناسته په څل وره کې
او پوهيږم چې را درومي　　خوشحالی په اندښنه کې
خوشحالي به ناګهانه
کړي د هيلو کور روښانه
په دې حال کې زه مسکيږم　　د خوښي سندرې وايم
او يوازې مې په زړهٔ کې　　د مستي سندرې وايم
لـرم هيله چې له باده
د پيمان په بوی شم شاده

www.sikaraam.com

٤٥

د قدم پښته ښکالو يې ته هم اوري او که نه ؟
په هر دم - هره غځه کې هره ورځ او هره شپه

واوره تل هغه را درومي !

ما په ډډ ورډ کيفيتونو د ښادیو ، د غمونو
آواز روايه خو وزي دا آواز له آوازونو :-

واوره تل هغه را درومي !

د « اپريل » د تودې مياشتې په خوشبويه ورځو شپو کې
د ځنګله له خوابه راشي داسې اورم په ځنګلو کې

واوره تل هغه را درومي !

د « جولای » د باراني مياشت په يوه توره تروږمی کې
د بريښنا په نرۍ لاره د اوريځو په ښکۍ کې

واوره تل هغه را درومي !

چې غمونه را چاپير شي د دۀ پل مې تر زړۀ لويږي
په مښود يې د زړين ګام زما د زړۀ خوښي ځليږي

واوره تل هغه را درومي !

www.sikaraam.com

نه پوهيږم چې له کله
چې له ما سره يوځای شي

ته راځې او رالنديزې ؟!
را روان يې نه دريزې

که ستا لمر دی ، که دې ستوري
تا زما له سترګو ننشي

که سپوږمۍ ده جلوه ګره
پټولای زما لمره !

په شپو ورځو دې ګامونو
ستا رويبار مې د زړهٔ کور ته

په سنګالو وپارولم
راغې ، پټ يې ويللم

نه پوهيږم چې نن زما ژوند
د خوښۍ حس مې په زړهٔ کې

ولې دغسې اوتر دی ؟
په څه هسې شناګر دی ؟

اوس يا هغه وخت راغلی
چې له تا می اړوي پام

چې هر کار کسب ته شا کړم
له هر څه سترګې پټا کړم

د پستې وزمې له څانګو
ستا د نن يوه لطيفه

تسلي را ټولومه
خوشبويې محسوسومه

www.sikaraam.com

٤٧

شپه نژدې ده چې شي تيره
په بيکاره انتظار کې

ستوماني مې غالبيزې
هميشه يم په دې دار کې

کوم سهار به دې ناڅاپه
راشي زه به ويښه نه يم

زه به سترې او ستومانه
د غفلت په خوب ويده يم

آه ، يارانو ، عزيزانو
که راته ، کله ، له کومې

زه ويدم وم ، او دې راغې
لار ورپريزدئ چې را درومې

که د دهٔ د قدمونو
په سنګالو نه شوم راويښه

په رونه سحريې هم که -
په راتلو نه شوم راويښه

www.sikaraam.com

دا هم نه غواړم چې ویښه — د چنچنو په غوغا شم
د رونا جشن کې ګډه — د وزمې په د لاسا شم

ما هم هسې ویده پریزدئ — چې ډاډه خوب می خوښیزي
که بادار مې هم ناڅاپه — راڅې ورځ ته مې دریزي

آه ، زما خوب ، او دا خوږ خوب — چې له سترګو نه وتلای
بس د لطف او مینې لاس یې — د محبوب شي تشولای

آه ، لیمې مې صرف د هغه — د موسکا په نور رونیزي
لکه خوب په نیمه شپه کې — چې زما سر ته دریزي

پریزدئ ، پریزدئ چې تر ټولو — رنګاګانو ، صورتونو
اول دی وینم په سترګو — چې ویښیرم له خوبونو

زما د ویښې روح لپاره — د خوښۍ لومړی ځلا شي
زما راتله له خوبه ځانته — فوراً دهٔ ته ستنیدا شي

www.sikaraam.com

٤٨

د سکوت په سمندر کې
چې سحر پورته نغمې شوې
د مرغانو نغمې راغلې
او وړې وړې څپې شوې

د سرک په غاړه غاړه
د ګلونو نندارې وې
او د وريځو له چولو نه
طلايي وړانګې خپرې وې

خو زمونږ ورته پام نه وو
خپله لاره مو وهله
هيڅ پروا مو د دې سنګلو
مناظرو نه ساتله

نه مو وبلله چيرته
د خوښۍ يوه سندره
نه مو وخندل له شوقه
نه مو وکړه يوه خبره

www.sikaraam.com

نه د کلیو خوا ته لاړو
نه مو کومه لوبه وکړه ،

د څه سود سودا د پاره
نه هوسا شوو ؛ تلو په لاره

چې وخت لنډ او سفر اوږد و
څومره وخت په تیریدو و

څکه دومره ګړندي تلو
مونږ به هومره ګړندي تلو

لر تندي ته مخامخ شو
غومبر سیوري کې وهله

ګرمي تیتې کړې وزړې
ښایسته مستي کوترې

کوخي ننوتې غار ته
د غرمې تودې هوا کې

مرغی ځانګو کې شوه غلی
وچې پانې الوتلې

د شپا نه بچي تر وني –
بې اختیاره یې له خوبه

لاندې ناست دی او زنګیزي
سر یوه بله خوا کیږي

د اوبو په غاړه ما هم
پر وښو باندې خپارهٔ کړه

خپل ستومانه اندامونه –
چې سوکه مې شي هډونه

زما ملګرو مسخره کړم
زه یې پریښودم له کیږه

په ریښخند راته مسکي شول
په نفرت رانه رهي شول

نه یې شاته پام او خیال و
خو د وخت په شنه بخونه

نه سوکه شول ، نه په څټ شول
ګردله کې رانه پټ شول

www.sikaraam.com

دوی له ډیرو هسکو تیټو
چمنونو نه هم تیر شول
له عجیب عجیب ځایونو
له ملکونو نه هم تیر شول

د اوزدې او بې پایانې
لارې تلونکو ، رهبروانو ؟!
عزت ستاسي په قسمت دی
فخر ستا سو دی خوانانو ؟!

پیټ پیغور کړمه چونګاړې
دغې ګرمې پاځولم
هیڅ ځواب راسره نه و
پټه خوله ودریدلم

ما خپل ځان د یوه مسرور عجز
په ژورو کې لیدلو
د تیارو سر ور په سیوري
کې ، مې پټ او ورک ګنډلو

د سکون د تیاره سیوری
چې په لمر و جر او شوی
له ما هیر کړ هغه فکر
چې زه څه ته وم راغلی ؟

چې را پاځیدم له خوبه
ته ولاړ وې زما سر ته
د موسکا سیل دې پرې ایښی
زما د خوب پراته ډګر ته

آه ، زه خومره ویریدمه
له اوزدې او سترې لارې
ما وې تاته رسیدل به
ناممکن کړي سختي چارې

www.sikaraam.com

راغلې ، راغلې له ټپل تخته شوې راښکته
راغلې ، راغلې او زما کالهٔ ته راغلې !

ما یوازې د کورګې په یوهٔ ګوټ کې
د خپل مات زړګي نغمې رازغولې
زما د عجز او غریبي تټې سندرې
تا د مینې په غوږونو واوریدلې
راغلې ، راغلې او زما جوګې ته راغلې !

په دربار کې دې پاخه استادان پند دي
چې هر یو درته هروخت وایي سندرې
خو هغه چې ستا په زړهٔ یې اثر وکړ
وو د دغې نو آموزې را مشکړې
ځکه راغلې او زما جوګې ته راغلې !

زما سرود سره د ساز له لوی جهان نه
یو تنکی زړهٔ پارونکی آواز مل و
تا یو ګل د جایزې په توګه راکړ
خومره ښکلې جایزه ، خومره ښه ګل و ؟
راغلې ، راغلې او زما جوګې ته راغلې !

www.sikaraam.com

۵۰

چې د پکر په خیال ووتم له کوره
لکه سیوری هر دیوال ته دریدمه
د خیر راکړئ زغ په خولهٔ ، کچکول په غاړه
کور په کور او وره په وره راګرزیدمه
* * * * * * * * *

د ځلانده خوب په خیر ماته له لرې
ستا زرینه شاهانه بڼکاره شوه
زه حیرانه پاته شوم چې کوم باچا دی
چې لیدو ته یې بیواره نظاره شوه ؟
* * * * * * * * *

www.sikaraan.com

امیدونه مې راپاخیدل په زړهٔ کې
آرزوګاني لکه ګل په غوړیدو شوې
زما خیال و چې که خیرو بخت راویښ شو
اوس مې بدې ورځې ځي په تیریدو شوې
*** *** ***
زه په لار کې منتظره وم ولاړه
چې باچا ګوندي بې غوښتو یو څه راکړي
په دولت کې به مې ډوبه کړی له جوده
له سرو سپینو به مې سنګلې شاوخوا کړي
*** *** ***
ستا زرینه بګۍ راغله هلته تم شوه
په هغه ځای کې چې زه ومه ولاړه
راته مسك شوې او راکوز شوې زما خواته
د نیستي وسوسه واړه له ما ولاړه
*** *** ***
ما دا حس کړه چې آخر زما په ژوند کې
د خوښۍ د لمحو وار راتهٔ او راغی
د حسرت شپې لاړې دا دی چې پخپله
د جهان د باچاهانو سردار راغی
*** *** ***
زه په دغو هوسنو غوړیدمه
چې ناڅاپه دې ښې لاس ونیوې راته
او پوښتنه دې له ما وکړه چې ګوره
راوړه څه شی دې راوړې جینۍ ماته ؟!

چې دې لاس دی یوې پکیرې ته نیولی
www.sikaraam.com
آه ، دا څه شاهانه تهوکه ده باداره ؟!

پریشانه شوم ، خو لاس مې کړ بنې ته

چې دانه غنم راواخلم ستا د پاره

*** *** ***

چې ماښام مې کور کړه خپله بنې تشه
حیراني مې هغه وخت کې شوه لا ډیره
چې د پکر په غله کې می واهه لاس
یوه د سرو زرو دانه شوه را برسیره

*** *** ***

په رټ رټ مې اوښکې تویې شوې له سترګو
هی افسوس چې بدمرغي کړمه نادانه
کاشکې تا ته مې وای هر څه وړاندې کړې
کاشکې درسته در جار شوې وای سلطانه !

www.sikaraam.com

٥١

شپه ده تياره شوې کليوال درسته راغلي دي
زمونږ ورځنی چارې خو هم پای ته رسيدلي دي
څنګه چې وروستي ميلمانه هم ځای په ځای شوي دي
ننوتو خونو ته او ورونه مو تړلي دي
* * * * * * * * *

چا ويل :- باچا راځي او هم په دغه شپه راځي
مونږ وخندل ومو ويل :- نه يې منو ، نه راځي
چا ويل :- څوك راغی مګر ، وګورئ چې ور وهي
مونږ وويل :- هيڅوك نشته باد به يې په سر وهي
* * * * * * * * *

www.sikaram.com

مړې مو کړې ډيوې او تاريکې ته مو پناه وروړه
پريوتو بستر ته مو له ستونځو ستړې ساه وروړه
*** *** ***

چا ويل :- رويبار راځي څرپې يې د ګامونو دی
مونږ په خټ خټ وخندل چې زور د شمالونو دی
*** *** ***

نيمه شپه يو زغ شو ، مونږ وې تالنده غوريزې بيا
مځکه ، ديوالونه پرې رپيزې او خوځيزې بيا
خوب را څخه لاړ او چا وې ، دی د ارابو آواز
مونږ له خوبه ووې :- دی د تالندې او ورو آواز
*** *** ***

شپه لا تياره وه د ډولونو د ډنګا زغ شو
« هلې پاځې ، خندې مه کوې » جوخت ورسره دا زغ شو
مونږ په بيړه پاځيدو له خوبه چې نارې شوې بيا
هغه دی شاهي علم او دا دی نغارې شوې بيا
*** *** ***

مونږ سره نارې کړې چې معلومه شوه باچا راځي
هغه هم په داسې تنګ فرصت کې په دې خوا راځي
کومه ده ډيوه ، او اميل کوم دی ، تخت له کومه کړو ؟ ...
کومه ده يوه روغه خونه ، فرش او رخت له کومه کړو ؟ ...
*** *** ***

شرم دی ، ډير شرم ؛ چې نه ظرف او نه کالي لرو
مونږ به د باچا په راتلو ولې خوشحالي لرو ؟
*** *** ***

www.sikaaam.com

چا ویل :- بې ځایه سوړې پس کړئ او شرمیږئ مه
هسې په تش لاس یې روغبړ وکړئ په شا کیږئ مه
وریې ولئ خپلو تیاره تورو کندوالو لره
ځکه د ده ځوړه ده له تیتو دیوالو سره

* * * * * * * * *

وروسته ورته بیرته شول ، ناقوس په زغیدا راغی
زمونږ د چوپتیا کور ته په تیاره شپه کې باچا راغی
تالندې غوریږي ، د بریښنا له رڼا شپه ریږدي
توره تروږمی ده د سیلی له وهمه پښه ریږدي

* * * * * * * * *

راشه ، ورته خلاصه دې د ژړنګې خونې لاره کړه
نور دې که څه نشته یود زړه پوزی اواره کړه
ځکه چې زمونږ د دې مهیبې شپې باچا راغی
ګډ له دې طوفان سره ناڅاپه په دې خوا راغی

www.sikaraam.com

۵۲

ما وې زه به درنه غواړم
ستا امیل د سرو ګلونو

خو دا زړه را سره نه و
چې مخ لوڅ کړي د رازونو

منتظره شوم سهار ته
چې ته پاڅې له بستره

ګوندې پاته وي څو پانې
زه یې تولې کړم دلبره !

سحر بیا لکه بیوزلې -
درویزګره چې لګیا شي

په دې ټمه ګرزیدمه
چې یو دوه پانې پیدا شي

دریغه ، هیڅ په لاس رانغله
ستا د سرو ګلو له هاره

ستا د مینې کومه نخښه
پاته نه وه زما د پاره.

www.sikaraam.com

نه کوم گل شته ، نه يې پانه
نه خالي شيشه د عطرو

نه خوشبويه مساله شته
نه يې نخښه ، نشانه شته

بلکې بس ستا تيره توره
خو بيا هم چې دی ستا لطف

چې لمبې غوندي کړيزي
د بريښنا غوندي ځليزي

اوس په دې دنيا کې ماته
زما پر هڅو بريالی،شوې

له رنا پټې تيارې شوې
په بستر باندي خورې شوې

زه به هرڅه ورنه جار کړم
علايق به باندي پرې کړم

چې ويل يې هسې ما ته :-
چې يې وښودای شي چا ته ؟!

دار او بيم به رانه تښتي
اوس حقير آرايشونه

نه عطرونه ، نه ګلونه
چې رڼيزي ور نه زړونه

خپلو زلفو ته مې شا کړه
ای زما د زړهٔ مالکه !

اندېښنو کړم را ايساره
چې دې راکړ ماته ياره ؟!

نه د خونې په يوه ګوټ کې
نه زما په کړه او وړه کې

چيرې هم نه پټيدله
زما سينه يې تڅوله

تا د سم سينګار لپاره
اوس له ما سره نور لوبی

ما به څنګه ګرزوله ؟
شرميدم له دې عمله

www.sikaraam.com

او زما زړه بې اختياره
لکه تالنده درنه ده

خه له دې نه غوره نشته
خه د دار خبره نشته

چې سهار مې تر کړکيو
نوې نوې پلوشې دي -

بس يو مرګ دې راته پرېښود
د ژوند خول مې ورته کېښود

اوريدل مې له مرغيو
وايه ، تا سره خه شی شته

چې ستا توره راسره ده
چې دا توره راسره ده

نه در پاته عود بتی ده
بس دا لويه تيره توره

ترکومه او پرېږدمه
زړه' په هيڅ شي نه ترمه

په حيرت کې دوبه ناسته
چې دې دا خه ور انعام و

اوس نه چا پسې کړېږم
پټه خوله ناسته ژړېږم

دا تيره توره به خه کړم
که مې واى په غاړه کړې

ده خه ناز يا ادا پاته
دغه توره راکړه ماته

توريالى ګرزوي توري
زه کمزورې جينکی وم

د نانځکو نه جوړېزي
آرايش ته نه توپليزي

www.sikaraam.com

دا د لاس د سرو وښې دي خومره سنګلی معلومیزي
رنګ په رنګ ایښي غمي یې لکه ستوري تل ځلیزي
خو تر دې هم د تا توره
مـا ته ډیره ده منظوره

چې له ډیره آب و تابه د بریښنا غوندي کړه شي
د « وشنو » د کوټرونو غوندي سنګلې ، سنایسته شي
د غروب د لمر شغله شي
له قـارجنې سرخـې سره شي
هغه ریږدي ، لکه ریږدي په ډیر درد کې ناقراره -
د اجل په کاري واري د ژوندون ځواب له ډاره
چې رپیږي ، چې ځلیږي
ژوند و مـرګ ورنه ویریږي
هغه بریښي خو له بریښنه لکه بل اور د پیلو ځي
د دنیا هوا هوس ټول په سپیځلي لمبه سوځي
زما خوښه تر هر شي ده
سنایسته دې تر وښې ده
لکه هسك په رنو ستورو ستا وښې جواهر ګاره
سنایسته دي ، خو ستا توره ای د تالندو واګداره !
هم بیساري ده جلوو کې
هم هیبت راولي زړو کې

www.sikaraam.com

٥٤

منم ، ډيره يې غمجنه
او درنې ستوګې دې ډيرې

نه پوهيږې چې ګل څنګه
پاڅه ، پاڅه ضايع کيږي

د دې لو لارې په پای کې
په پردیس عالم کې ګومبنی

له هغه سره دروه مه کړه
له خوښونو دې په زړۀ کې

د غرمې د لمر له تاوه
څه پروا که لهِ تودخې

آيا ستا د زړۀ په تل کې
چې جرس دې شي د لارې

څه پروا که د کړاو دا -
د هر سترې پله سنګالو به

اندیښنې دې میلمنې دي
له درانه خوبه درنې دي

حکومت کا په اغزو کې ؟!
فرصتونه په خوبو کې

هلته لرې ، په ها لورې
ستا لالی ستا لاره ګورې

سترګې وغړوه پاڅه
مینه مه سړوه پاڅه

که سرې شګې نینې کیږي
د آسمان هم ساه ګودیږي ؟

هیڅ سرور نه موندل کیږي ؟!
مزلونه پرې لنډیږي

اوږده لاره بنه اوږده شي
یوه خوږه غوندې نغمه شي

کندز ۸ / ۱ / ۵۵

www.sikaraam.com

خه خو شته ، خه خو شته یاره ! بې خه نه دی
چې دا زه دې دومره خوښه یم ساتلې
دا هم نه ښکاري بې خه چې شوې رانښکته
په راتګ دې بې خه نه یمه ځانځلې
*** *** ***

ای مالك د آسمانونو ! که زه نه وای
د تا مینه به وای چیرته اوسیدلې ؟
تا په خپلې بې پایانې لو هستي کې
زه له ځان سره شریکه یم ګڼلې
*** *** ***

www.sikaraam.com

زما زړهٔ دې په کاملې مینې ډک کړ
زما مینه دې په خپل لطف روزلې
ستا رضا زما په ژوند کې مشغولیزې
چې هر دم یې خیره بل شان اړولې

* * * * * * * * *

ای باچا د باچهانو ! دې د پاره
چې زما د زړهٔ مرغی دې وې نیولې
ځان راښیی د جهان ترښکلو ښکلې
هرساعت دې وې ښکلا تریخوا ښکلې

* * * * * * * * *

او د دې غرض لپاره دې وې مینه
د غوښتونکې زړهٔ په مینه کې اخزلې
دواړه ګډې کړې چې بیا د دوی له مینځه
د کامل وحدت خیره وې تا ښودلې

www.sikaraam.com

اې ، اې رنا ، رنا
اې - اې زما رنا

ځلوړنکې د دنیا
د زړهٔ صفا رنا

مچوړنکې د لیمو
پاروړنکې د آرزو

زما د ژوند په زړهٔ
کوې نخا رنا

اې - اې سنکلې رنا
زما د عشق د ساز

تارونه ریزدوې
تهنګوې لکه شهباز

* * *

آسمان سره غوربزې
وزمه شي په توپونو

خندا د تا له لطفه
خوره شي په ملکونو

مرغان له خوشحالي نه
راتیت شي په سیندونو

وزرونه راخواره کړي
په خیر د بادوانونو

رابیل دې که سې
نور ته سترګې غړوې

د رنا په نرو ګوتو
خپلې غوټې غوړوې

* * *

اې - اې زما محبوبه !
رنا چې وځلیزې

وریځې یې له بریښنه
تکر ، تکر بیلیزې

چراو شي توري وریځې
چې ورانګې پرې لګیزې

او پانې په خوښیو
همه واړه وغوړیزې

سیلاب د خوشحالیو
ورنیسي نړۍ واړه

ډوبوي یې خوند و رنګ
د جنت د چینې غاړه

www.sikaraam.com

۵۷

پریږده زما په وروستنۍ نغمه کې ځای شي
د خوښیو همه واړه فشارونه
د پسرلي خوږه وزمه شي او په مځکه
راخوره شي او ژوندي کړي بهارونه
*** *** ***

ها خوښي چې مرګ و ژوند نخښې دواړه
ها خوښي چې مرګ و ژوند ونه نغښا کا
ها خوښي چې د طوفان غوندي ځبي ژوند
بیا په برخه د ژوندون مسته خندا کا
*** *** ***

ها خوښي چې پته خوله ، په ډکو سترګو
په رقت سره کړي ګل باندي پرته وي
او هغه چې نور له ټولو موجوداتو
بینیازه او د لفظ پابنده نه وي

www.sikaraam.com

٥٨

ای زما د زړه محبوبه ! زه پوهیزم
دا چې پانې ړېوي زرینې وړانګې
دا وزمې چې مې سړې په مخ لګیږي
دا له ګلو - له غوټیو سنګلې ځانګې
دا په هسك کې لامبوزنې شانته وریځې
واړه هیڅ دي خو باقي ده یوه سټا مینه

*** *** ***

د سهار رڼا زما لیمه توفان کړي
دا سې دی د تا پیغام زما د پاره
مخ دې دې پلو کوږ کړی او له پاسه
سنګته غلی غلی ګوره ماته یاره !
زه په تیټو سترګو پټ پټ درته ګورم
زما زړهٔ دې قدمونه سنګلوینه

www.sikaraam.com

هرځای چې په ساحل د سمندر څېې لګیزي
واړهٔ سره راټول وي او په څنډو کې لوبیزي
پاس چې لوی او ارته آسمان ته ګوري غلې وي
لاندې لټ پلاندو څېو بحر درست نیولی دی
هرځای د دنیا د سمندر په هره غاړه
غونډیوي وړو لوبو ته واړهٔ ماشومان واړه
* * * * * * * * *

دوی د شګو خونې جوړوي او ورانوي په شوق
شکې اړوي او تش ګوجې ورټولوي په شوق
وچې پانې ټولي او بیړۍ ورنه تیارې کړي
بیایې په خندا ، په مستۍ بحر ته غورزاړي کړي
هرځای چې یې ګورې ماشومان د سیند په غاړه
هسې وي مشغول په اوتو بوتو باندې واړه
نه پوهیزي دوی چې لامبو څنګه وهل کیزي ؟
نه په دې خبر وي چې تور څنګه سیند ته لویزي ؟
* * * * * * * * *

www.sikaraara.com

سيپى ورتولونكي مرغلرو پسې غوتې وهي
گرزي سوداگر او په دريا كې ورځي شپې وهي
مگر له ماشوم سره د كتې وتې غم نه وي
شگې تولوي بيايې ټيندي د كوتې غم نه وي
نه يې د خه پتو خزانو سودا په سر كې وي
نه يې د بيړيو چلاو زده په سمندر كې وي
مست او توفاني سمندر خاندي او غورزيزي
ژيړې پلوشې يې په ساحل باندي خپريزي
وركوته د بحر توفاني خپې سنگالو سنگاري
خوشي بې معنا غنگړ ، د مور پسته للو سنگاري
لوى سمندر وور شي كوي لوبې له ورو سره
دوى ته په ساحل ننداره بښيي پلوشو سره
هرځاى په جهان كې د څپان بحر په څنده
وركو جوړه كړې وي د لوبو وړه غونده
بې لارې توفانونه چې په هسك كې وهي منډې
دوبى كړى بيړى وهي په ژوند پورې ملنډې
هره خوا مرگ خپور دى خو ماشوم نه ترې خبريزي
داډه زرونه په غاړو خپلو لوبو ته غونډيزي
هرځاى چې د بحر په ساحل د ژوند اثر سنگاري
لوبې لوبې ډلى د ورو په لوبو سر سنگاري

www.sikaraam.com

٦٠

بیګا په تت ځنګله کې د ځپان را دهٔ په غاړه
کله چې تیاره په مخکه ورو ، ورو خوریدله
یوه بله ډیوه یې تر پلو لاندې نیولې وه
سنګلې جینکۍ په بیړه بیړه تیریدله
* * * * * * * * *

ما ویل جینۍ ! څه درته وایم - راته وګوره !
زما خونه تیاره ده ، ته دا بله ډیوه چیرې وړې ؟
دا ډیوه که راکړې زما توره شپه به ورکه کړې
خوا کې دې تیاره ده ته رڼا درسره لیرې وړې
* * * * * * * * *

سنکلي توري سترګي يې را وړولي وي ويل :-

www.sikaraam.com

زما تر پلو لاندي پته ده د نذراني ډيوه

لږ څه چې تياره شي دا په سين لاهو کومه زه

دا ډيوه د سين نذر ده ، نه د کاشاني ډيوه

*** *** ***

زه لا د سْاحل په ونو غنو کې ولاړه وم

دې خپله ډيوه ها ليونو څپو ته وړاندې کړه

ما ورته کتل چې دوبيدله په لوی لاس ډيوه

تته رناګی يې د سين مستو اوبو لاندې کړه

*** *** ***

بيا مې د تياره ماښام سره سنا کې وليده

بيا يې هم ډيوه تر خپل پلو لاندې نيولې وه

ما وې :- جينی ! چيرته ځې او بله ډيوه چاته وړې ؟!

ستا هره رنا د تا تر بلې رنا سنکلې وه

*** *** ***

زما خونه تياره ده کله پرې زما خونه روښانه کړې

دې راته په شك وکتل ، ويې وې چې :- دا ډيوه

غواړم چې آسمان ته د هديې په توګه وړاندې کړم

دا د نذراني ديوه ده نه زما او ستا ډيوه

*** *** ***

زه لا وم ولاړه هغه ځای او هغې سيمې کې

دې د نذراني ډيوه د سين په غاړه کيښوده

ارتې فضا کې سوځيده او ورکيده ډيوه

زما خونه يې هغسې تياره توره را پريښوده

نیمه شپه مې بیا ولیده ، بیا می ورته وویل
www.sikaraam.com
څه غواړې چې بیا دې ډیوه خوا پورې نیولې ده ؟!
زما خونه تیاره ده ، دا ډیوه که راته وبخښې
زما په تنهایې ګوره تیاره هم غوړیدلې ده

* * * * * * * * *

یوه ګړۍ یې سوچ وواهه ، بیا یې راته وویل :-
عید د « دیوالي » دی ما راوړی ورته دا نذر
غواړم چې د نورو رڼاګانو ټول کې ګډه شم
نشم دربخښلی د ایمان د تینګیدا نذر

* * * * * * * * *

زه لا په هغه ځای کې ولاړه وم چې ورکه شوه
هغه ډیوه ګې په نورو ګڼو څراغونو کې
لکه د باران یوه وړه قطره چې ولویږي
ورکه شي د بحر په وړو ، لویو موجونو کې

www.sikaraam.com

چې د لیږد ساعت مې راشي لږ څه وړاندې له سفره
خدای دي وکړي چې په خوله مې وي جاري دغه خبره :-

دا هر څه چې مې لیدلي
واړه ښه وو ، واړه غوره

د رڼا په سمندر چې نیلوفر وو غوړیدلی
پټ خوږوالی مې د هغه ښایسته ګل دی څکلی
ځکه خوښه یم او وایم چې د تلو وخت مې راغلی

دا هر څه چې مې څکلی
واړه ښه وو ، واړه غوره

په بې شمیرو صورتونو مې لیمې دي لوبیدلي
دلته زما سترګې د هغه چا په مخ دي لګیدلي
چې نه رنګ لري نه کړهٔ وړهٔ نه یې خوبي دي چا شمیرلي

غواړم ووایم په تلو کې
هر څه ښه وو ، واړه غوره

زما په ټول جسم و بدن کې خوږ مبنود د دهٔ پیدا دی
ځکه هر غړی مې بیل بیل لکه زړه په ږپیدا دی
خو دی نشي لمس کیدلی دی له هر څه مبرا دی

غواړم دا مې وروستی حرف دی
هـر څـــه ښه وو ، واړه غـوره

www.sikaraam.com

٦٢

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !

د زاړه ناقوس له زړه دې اوس ستا مینه هیره شوې
عبادت ته د شپې هیڅوک نه دربولي ګړیالونه
په مطلق سکوت کې ورکه ! شاخوا دې سپیره شوې

* * * * * * * * *

ستا د چوپې چوپیا کور ته آواره وزمې رادرومي
حال در وړي د هغو ګلو چې اوس نه در وړاندې کیږي
لا د هغه لطف هیله چې انکار اوس ترې کیدای شي
د زاړهٔ پرستار زړه، کې دې خوږیږي او څلیږی

* * * * * * * * *

www.sikaraam.com

ماښامي مهال چې ګډي په تيارو شي رناګاني
ستړی شوی ، ستومان شوی ، اسکيرلی خواته درشي
پخوانی ارادتمند دی وزی زړهٔ ترلاس نيولی
لتيدلی، پرزيدلی په تياره کې تاته درشي

* * * * * * * * *

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !
په شپو شپو ستا پرستش کړي په تيارو په دربلو کې
خو ته هروخت په دا يو شان جاويدان حيرت کې ډوب يې
ستا ماښام نه سبا کيږي ، رنا نشته ستا په شپو کې

* * * * * * * * *

د وران شوي معبد بُته ، د وران شوي معبد بُته !
زما تاته خوا شنه کيږي چې اختر او جشن راشي
نه اميل د تا په غاړه د ګلونو اچوي څوک
نه بتی درته بليږي نه عطرونه په تا پاشي

* * * * * * * * *

ښايسته بُتان به جوړ کړي فنکاران چې زړهٔ يې غواړي
او په سين کې د نسيان به يې د تا غوندي ايله کړي
خو يوازې د وران شوي معبد بُت به تل بيخوده
هسې پروت وي او هيڅوک به پرستش د هغه نه کړي

* * * * * * * * *

PROPERTY OF ACKU 4792

Series NO:79

On the Occasion of the 10 th Anniversary Of the
Writers Union Of Free Afghanistan (WUFA)
(1985-1995)

Gittangli

by:

Rabendra Nath Tagore

Translated in To Pashtu by:

Muhammad Sadiq Paserlai

The Writers Union Of Free Afghanistan.
1995